افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

Afghanistan Cricket Board

بــريـــــا د ټولو هيله

شپږم کال، لسمه ګڼه
نومبر - ۲۰۱۹ کال

په هیواد کې لومړنی
بشپړ اسلامـي بانک

اولین بــانک کــاملاً
اسلامی در کشـــور



د افغانستان اسلامي بانک
Islamic Bank of Afghanistan

2121

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنيو او بازار موندنې څانګه
مياشتنۍ مجله
نومبر- ۲۰۱۹

مسوول مدير: عبدالله خان پکتانی

ليکوالان او راټولوونکي:

ابراهيم مومند، محمد فريد هوتک،
رحمت ديوان او محمد نعمان اشرفي

عکس اخيستوونکی:

سيد حسرت سادات

ډيزاين: احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لړلیک

افغان کرکټ

- افغان لوبډله د بریا کلک هوډ لري ۱
- افغانستان د ویسټ انډیز پر وړاندې ۲
- زموږ ټول تمرکز پر غوره توپوهنه دی ۱۲
- د اسیایي لوبډلو ایمرجېنګ جام ۱۴
- د افغانستان او هند ۱۹ کلنو لوبډلو تر منځ پنځه یو ورځنۍ سیالۍ ترسره شوې ۱۶
- د زونونو په کچه تر شپاړس کلنو کم عمره ځوانانو سیالیو جام د سپین غر لوبډلې تر لاسه کړ ۲۰
- د احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس دویمه برخه لوبې پېل شوې ۲۲
- شل اوریزو لوبو کې غوره توپ اچونه ۲۶
- حمزه هوتک: د تلپاتې سولې راتلو ارمان لرم ۳۰
- هغه ۵ توپوهونکي چې په یو ورځنیو سیالیو کې ډېر ځل په صفر سوځېدلي ۴۰
- هغه لوبه چې په ۱ توپ ۱۲ منډې پکار وې او لوبډلې پوره کړې ۴۶
- **Three Cricket venues that have a tree inside the ground** ۵۰

سرمقاله

افغان لوبډله د بریا کلک هوډ لري

افغان ملي لوبډلې د روان ۲۰۱۹ زېږدیز کال په نومبر میاشت کې د ویسټ انډیز پر وړاندې د یو ورځنیو لوبو، شل اوریزو لوبو او یوازېنۍ ټېسټ لوبې لوبلړۍ ترسره کړې چې د یاد هېواد پر وړاندې یې د نومبر له شپږمې تر ۲۹مې پورې درې یو ورځنۍ، درې شل اوریزې او یوه ټېسټ لوبه ترسره کړه. که څه هم افغانستان د یو ورځنیو لوبو او یوازېنۍ ټېسټ لوبې لوبلړۍ ونه ګټله، خو په شل اوریزو لوبو کې یې له سیالې لوبډلې بریا خپله کړه. په دغو لوبو کې ډېرې ځوان لوبغاړو هم خپله وړتیا وښوده او ځینو یې د لومړي ځل لپاره په دغو نړیوالو لوبو کې ګډون وکړ چې ډېر ښه ثابت شول. په عموم کې د افغان لوبډلې لپاره دا یو ښه زېری دی چې له اوسه د ۲۰۲۰ کال شل اوریزو لوبو نړیوال جام ته بشپړ چمتووالی لري، په دې معنا چې دوی د شل اوریزو لوبو په بڼه کې د ویسټ انډیز په څېر یوې چټکې او بریالۍ لوبډلې ته ماتې ورکړه او دغه یوه ستره بریا ده. په راتلونکي ۲۰۲۰ زېږدیز کال کې د اسیا جام او نړیوال جام شل اوریزې سیالۍ را رواني دي او افغان لوبډله هم ورته بشپړ چمتووالی لري، افغان لوبډله به انشاءالله د دغو جامونو په لوبو کې ښه وځلېږي او بریاوې به راوړي. دغه راز د ۲۰۲۳ کال یو ورځنیو لوبو نړیوال جام لپاره هم له اوسه د لوبغاړو پر بشپړ چمتووالي کار روان دی او لري به نه وي چې دوی به په دغه ښه سیالیو کې هم ډېر ژر ځان ثابت کړي.

AFGHANISTAN VS WEST INDIES

3 ODIs | 3 T20Is | One-Off Test

افغانستان د ویسټ انډیز پر وړاندې

د افغانستان او ویسټ انډیز ترمنځ د افغانستان په کوربه توب د هند د لکنو ښار په ایکانا لوبغالي کې د ۳ یو ورځنیو او ۳ شل اوریزو لوبو لوبړۍ او همدا راز یوه ټېسټ سیالي ترسره شوه. دغه سیالۍ چې د نومبر په ٦مه پیل شوې، د نومبر تر ۲۹مې نېټې پورې یې دوام وکړ، چې د یو ورځنیو لوبو لوبړۍ ویسټ انډیز په خپله بریا تمامه کړه، د شل اوریزو لوبو لوبړۍ کې افغانستان بریا خپله او یوازینۍ ټېسټ لوبه هم ویسټ انډیز په خپل نوم کړه.

د عزیزي بانک جام یو ورځنیو سیالیو لوبړۍ ویسټ انډیز په خپل نوم کړه

لومړۍ لوبه، ٦مه نومبر

په لومړۍ یو ورځنۍ لوبه کې ویسټ انډیز د لوبې پچه وګټله او افغان لوبډلې ته یې د توپوهنې بلنه ورکړه.
افغانستان په ۴۵.۲ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۹۴ منډې وکړې، چې له ډلې یې رحمت شاه ٦۱، اکرام علي خېل ۵۸ او اصغر افغان ۳۵ منډې ترلاسه کړې. د ویسټ انډیز لپاره بیا جېسن هولډر، شیفرډ او راسټن چېس ۲-۲ لوبغاړي وسوځول.
د ۱۹۵ منډو هدف د ویسټ انډیز لوبډلې په ۴٦.۳ اورونو کې د ۳ لوبغاړو په سوځېدو پوره او په ۷ ویکټو یې افغان لوبډلې ته ماته ورکړه. د دوی له ډلې راسټن چېس ۹۴ او شای هوپ ۷۷ منډې ترلاسه کړې.
د افغانستان لپاره مجیب الرحمن ۲ او نوین الحق ۱ لوبغاړی وسوځاوه.
د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه راسټن چېس ترلاسه کړه.



دویمه لوبه، ۹مه نومبر

په دویمه لوبه کې افغان لوبډلې د لوبې پچه وګټله او لومړی یې د ویسټ انډیز لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.
ویسټ انډیز لوبډلې په ټاکلو ۵۰ اورونو کې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۲۴۷ منډې وکړې، چې له ډلې یې نیکولاس پوران ٦۷، ایوان لیوس ۵۴ او شای هوپ ۴۳ منډې ترلاسه کړې.
د افغانستان لپاره نوین الحق ۳، محمد نبي، شرف الدین اشرف، جاوېد احمدي، مجیب الرحمن او راشد خان ۱-۱ ویکټ ترلاسه کړه.
۲۴۸ منډو د هدف په تعقیب کې افغان لوبډلې په ۴۵.۴ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۲۰۰ منډې وکړې او په ۴۷ منډو یې لوبه وبایلله.
د افغانستان لپاره نجیب الله ځدراڼ ۵٦، رحمت شاه ۳۳، محمد نبي ۳۲ او حضرت الله ځاځي ۲۳ منډې ترلاسه کړې.
د ویسټ انډیز لپاره راسټن چېس او شیلډون کاټرېل ۳-۳ او هېډن والش ۲ ویکټې ترلاسه کړې.
د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه نیکولاس پوران ترلاسه کړه او ویسټ انډیز د درې یو ورځنیو لوبو لوبړۍ کې د دوه لوبو په ګټلو سره لوبړۍ په خپل نوم کړه.

د عزيزي بانک جام شل اوريزو لوبو لوبلړۍ افغانستان په خپل نوم کړه

لومړی لوبه، ۱٤م نومبر

د افغانستان او ويسټ انډيز ترمنځ درې شل اوريزو سياليو لوبلړۍ په لومړۍ لوبه کې افغان لوبډلې د لوبې پچه وګټله او لومړی يې د ويسټ انډيز لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

د ويسټ انډيز لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۵ لوبغاړو په سوځبدو ۱٦٤ منډې وکړې، چې له دلې يې ايوان ليوس ٦٨، کيرون پولارډ ۳۲ ناسوځبدلي او شيمرون هيټماير ۲۱ منډې ترلاسه کړې.

د ۱٦۵ منډو د هدف په تعقيب کې د افغانستان لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۹ لوبغاړو په سوځبدو ۱۳٤ منډې وکړې، چې په ۳۰ منډو يې له ويسټ انډيز نه لوبه وبايلله.

د افغانستان له لوري نجيب الله ځدراڼ ۲۷، اصغر افغان ۲۵، فريد احمد ۲٤ ناسوځبدلي او حضرت الله ځاځي ۲۳ منډې ترلاسه کړې. د ويسټ انډيز له لوري کيسريک ويليمس ۳، کيرون پولارډ او هايډن والش ۲-۲ ويکټې ترلاسه کړې.

د افغانستان له لوري ګلبدين نايب ۲، راشد خان، نوين الحق او مجيب الرحمن ۱-۱ ويکټ ترلاسه کړه.

د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه کيرون پولارډ ته ورکړل شوه.

دويمه لوبه، ۱٦م نومبر

په دويمه شل اوريزه لوبه کې افغان لوبډلمشر راشد خان د لوبې پچه وګټله او لومړی يې توپوهنه غوره کړه.

افغانستان په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځبدو ۱٤۷ منډې وکړې، چې له دلې يې حضرت الله ځاځي او کريم جنت ۲٦-۲٦، ګلبدين نايب ۲٤ او نجيب الله ځدراڼ ۲۰ ناسوځبدلي منډې وکړې.

د ويسټ انډيز له لوري کيسريک ويليمس ۳، جېسن هولډر او کيمو پاول ۲-۲ ويکټې ترلاسه کړې.

د ۱٤۸ منډو د هدف په تعقيب کې د ويسټ انډيز لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۸ لوبغاړو په سوځبدو ۱۰٦ منډې وکړې او په ٤۱ منډو يې له افغان لوبډلې ماته وخوړه.

د افغانستان له لوري کريم جنت په زړه پورې توپ اچونه ترسره کړه چې ۵ ويسټ انډيز لوبغاړي يې وسوځول، دا د هغه د شل اوريزو لوبو تر ټولو غوره توپ اچونه هم شوه. همدا راز نوين الحق، راشد خان او ګلبدين نايب هم ۱-۱ ويکټ ترلاسه کړه.

د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه کريم جنت ته ورکړل شوه.

دريمه لوبه، ۱۱م نومبر

په دريمه لوبه کې ويسټ انډيز د لوبې پچه وګټله او لومړی يې افغان لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

افغانستان په ټاکلو ۵۰ اورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځبدو ۲٤۹ منډې وکړې، چې له دلې يې اصغر افغان ۸٦، حضرت ځاځي ۵۰، محمد نبي ۵۰ ناسوځبدلي او نجيب الله ځدراڼ ۳۰ منډې ترلاسه کړې.

د ويسټ انډيز لپاره کيمو پاول ۳ او الزاري جوسيپ ۲ لوبغاړي وسوځول.

د ۲۵۰ منډو هدف د ويسټ انډيز لوبډلې په ٤۸.٤ اورونو کې د ۵ لوبغاړو په سوځبدو پوره او په ۵ ويکټو يې افغان لوبډلې ته ماته ورکړه. د دوی له لوري شای هوپ ۱۰۹ ناسوځبدلي، راستن چېس ٤۲ ناسوځبدلي او برينډن کنګ ۳۹ منډې ترلاسه کړې.

د افغانستان لپاره مجيب الرحمن ۲، شرف الدين اشرف، محمد نبي او راشد خان ۱-۱ ويکټ ترلاسه کړه.

ويسټ انډيز د درې يو ورځنيو لوبو په لوبلړۍ کې درې واړه لوبو کې بريا خپله کړه او لوبلړۍ يې په خپل نوم کړه. د دريمې لوبې د غوره لوبغاړي جايزه شای هوپ ترلاسه کړه او د لوبلړۍ د غوره لوبغاړي جايزه راستن چېس ته ورکړل شوه.

ډېرې منډې:

د درې يو ورځنيو لوبو په لوبلړۍ کې د شای هوپ ۲۲۹، روستون چېس ۱٤۵ او اصغر افغان ۱۲٤ منډې ترلاسه کړې.

ډېرې ويکټې:

په دغه سياليو کې روستون چېس ٦، مجيب الرحمن ۵ او هايډن والش بيا ٤ ويکټې ترلاسه کړې.

دریمه لوبه، ۱۷م نومبر

په دریمه شل اوریزه سیالۍ کې یو ځل بیا افغان لوبډلمشر راشد خان د لوبې پچه وګټله او توپوهنه یې غوره کړه.

افغانستان په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو ۱۵۶ منډې وکړې، چې له ډلې یې رحمن الله ګربز په زړه پورې توپوهنه ننداري ته وړاندې او د ۵ شپږیزو او ۶ څلوریزو پر مټ یې په ۵۲ توپونو ۷۹ منډې وکړې، دا په شل اوریزو لوبو کې د هغه تر ټولو زیاتې منډې هم دي. همدا راز اصغر افغان ۲۴، محمد نبي ۱۵ او نجیب الله ځدراڼ ۱۴ منډې وکړې.

د ویسټ انډیز له لوري شیلډون کاټریل، کیسریک ویلیمس او کیمو پاول ۲-۲ ویکټې ترلاسه کړې.

د ۱۵۷ منډو د هدف په تعقیب کې د ویسټ انډیز لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ۱۲۷ منډې وکړې او په ۲۹ منډو یې له افغان لوبډلې ماته وخوړه. د دوی له لوري شای هوپ ۵۲ او ایوان لیوس ۲۴ منډې وکړې.

د افغانستان له لوري نوین الحق ۳، مجیب الرحمن، کریم جنت، ګلبدین نایب او راشد خان ۱-۱ ویکټ ترلاسه کړه.

د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه رحمن الله ګربز ته ورکړل شوه.

د درې شل اوریزو سیالیو په لوبلړۍ کې افغان لوبډلې په ۱-۲ سره بریا خپله کړه او د لوبلړۍ د غوره لوبغاړي جایزه کریم جنت ترلاسه کړه.

ډېرې منډې:

د درې یو ورځنیو لوبو په لوبلړۍ کې ایوان لیوس ۱۰۶، رحمن الله ګربز ۹۴ او نجیب الله ځدراڼ بیا ۶۱ منډې ترلاسه کړې.

ډېرې ویکټې:

په دغه سیالیو کې کیسریک ویلیمس ۸، کریم جنت ۶ او نوین الحق ۵ ویکټې ترلاسه کړې.

د عزیزي بانک جام یوازینۍ ټېسټ لوبه ویسټ انډیز وګټله

د افغانستان او ویسټ انډیز ترمنځ یوازینۍ ټېسټ لوبه د نومبر په ۲۷مه نېټه د هند د لکنو ښار په ایکانا لوبغالي کې پیل شوه، چې د لوبې پچه ویسټ انډیز لوبډلې وګټله او لومړی یې د افغانستان لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

افغانستان په لومړۍ پاڼۍ کې ۱۸۷ منډې وکړې، چې جاوېد احمدي ۳۹، حمزه هوتک ۳۴، افسر ځاځي ۳۲ او احسان الله جنت ۲۴ منډې ترلاسه کړې.

د ویسټ انډیز له لوري راهکیم کورنوال ۷، جېسن هولډر ۲ او جومیل واریکان ۱ ویکټ ترلاسه کړه.

ویسټ انډیز په لومړۍ پاڼۍ کې ۲۷۷ منډې وکړې، چې شمار بروکس ۱۱۱ او جان کېمبل ۵۵ منډې وکړې.

د افغانستان له لوري حمزه هوتک په لومړۍ ټېسټ لوبه کې ۵ لوبغاړي وسوځول، همدا راز راشد خان ۳ او ظاهر خان ۲ ویکټې ترلاسه کړې.

افغانستان په دویمه پاڼۍ کې ۱۲۰ منډې وکړې چې د ویسټ انډیز لوبډلې ته یې د ۳۱ منډو هدف وټاکه. د دوی له لوري جاوېد احمدي ۶۲ او ابراهیم ځدراڼ ۲۳ منډې ترلاسه کړې.

د ویسټ انډیز له لوري راهکیم کورنوال، روسټون چېس او جېسن هولډر ۳-۳ ویکټې ترلاسه کړې.

د ۳۱ منډو هدف د ویسټ انډیز لوبډلې د ۱ لوبغاړي په سوځېدو پوره کړ او په ۹ ویکټو یې په لوبه کې بریا خپله کړه. جان کېمبل ۱۹ ناسوځېدلې منډې وکړې او د افغانستان له لوري حمزه هوتک ۱ ویکټ ترلاسه کړه.

د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه راهکیم کورنوال ته ورکړل شوه، چې په دواړو پاڼیو کې یې ۱۰ ویکټې ترلاسه کړې وې.

د افغانستان له لوري ناصر جمال او حمزه هوتک لومړۍ ټېسټ لوبه ترسره کړه، چې حمزه هوتک په یوه پاڼۍ کې ۵ ویکټې ترلاسه کړې او لومړنی افغان توپ اچونکی شو چې په خپله لومړنۍ لوبه کې دغه کارنامه ترسره کوي.

همدا راز جاوېد احمدي بیا لومړنی افغان توپوهونکی شو چې د ویسټ انډیز پر وړاندې یې پنځوسیزه ووهله.

دا د افغانستان څلورمه ټېسټ لوبه وه، چې په څلور ټېسټ لوبو کې یې دوه بریاوې خپلې کړې وې او دوه لوبو کې یې ماته وخوړه. افغانستان تر دې مخکې له هند، ایرلېنډ او بنګله دېش سره ټېسټ لوبې ترسره کړې وې.

همدا راز دا د راشد خان په لوبډلمشرۍ کې دویمه ټېسټ سیالي وه، چې لومړنۍ ماته یې افغان لوبډلې وخوړله، د راشد خان په لوبډلمشرۍ کې تر دې مخکې افغان لوبډلې د بنګله دېش لوبې ته په ټېسټ لوبه کې ماته ورکړې وه.

د افغانستان او ویسټ انډیز سیالیو د سرلیک مالي ملاتړ کوونکی

عزیزی بانک
Azizi Bank

د ویسټ انډیز پر وړاندې د یو ورځنیو لوبو لپاره د ملي لوبډلې د لباس ملاتړ کوونکی

خان ستیل
KHAN STEEL MILL

د ویسټ انډیز پر وړاندې د شل اوریزو لوبو لپاره د ملي لوبډلې د لباس ملاتړ کوونکی

پوهنتون کاردان
KARDAN UNIVERSITY

د ویسټ انډیز سیالیو لپاره د ملي لوبډلې د سفر ملاتړ کوونکی Airline Partner

Kam Air

زموږ ټول تمرکز پر غوره توپوهنه دی

لانس کلوزنر د ملي لوبډلې مشر روزونکی

....

لانس کلوزنر د ملي لوبډلې د روزنې او افغان لوبغاړو په اړه له افغان کرکټ مجلې سره خپل نظر شریک کړی چې له تاسو سره یې شریکوو.

له افغان کرکټ ملي لوبډلې سره زما لومړنی سفر دی، افغان لوبډله ډېره فوق العاده لوبډله او یوه بهترینه کورنۍ ده چې اوس یې زه هم غړی یم.

کله چې په لومړي ځل ما له افغان لوبغاړو سره ولیدل، نو هر یوه راته وویل چې زموږ کورنۍ ته ښه راغلاست.

زما لپاره تر هر څه دا ډېره مهمه ده چې موږ له یو بل سره ډېر وخت یو ځای تېر کړو او همدغه ډول یو ځای سره مخکې ولاړ شو.

په افغان لوبډله کې ډېرې برخې شته چې باید ډېر کار پرې وشي، دا لوبډله نه منونکي استعدادونه لري. زه فکر کوم چې که موږ ډېرې لوبې وکړو او له سترو سترو لوبډلو سره د لوبو تجربې ترلاسه کړو، نو دا به زموږ لپاره ډېره ښه وي، ځکه موږ به بیا د ښو او غوره پرېکړو په کولو وتوانېږو او موږ به وکولای شو چې د لوبو پایلو ته بدلون ورکړو.

افغان لوبغاړي ځوانان دي، لوړې جذبې او له استعدادونو ډک دي، ډېرې مهال له غښتلیو لوبډلو سره په مهمو لوبو کې ټوله خبره پر وخت او پر ځای پرېکړو پورې اړه لري، چې زما په فکر په دغه برخه کې موږ یو څه نیمگړي یو.

اوس مهال زما ټوله پاملرنه شل اوریزو لوبو ته ده، ځکه موږ پر وړاندې شل اوریزه اسیا جام او شل اوریزه نړیوال جام لرو او همدا راز نورې سترې شل اوریزې سیالۍ هم لرو.

فکر کوم په راتلونکي کال کې موږ یوازې یوه ټېسټ لوبه د استرالیا لوبډلې سره لرو او هغه هم تر نړیوال جام وروسته ده، نو په راتلونکو ۸ یا ۹ میاشتو کې زموږ ټوله پاملرنه شل اوریزو لوبو ته ده.

د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ په میاشت کې موږ په دوبۍ کې څو تمریناتي کمپونه لرو، د دغه تمریناتو پر مهال به موږ توپوهنې ته ځانگړې پاملرنه کوو، زموږ به هڅه دا وي چې لوبغاړي داسې وروزو چې هغوی چټکې منډې جوړې کړي، د یوې یوې منډې اخیستو باندې کار وکړي، ښه توپوهنه ترسره کړي او همدا راز په چټکه توپ اچونه باندې به هم کار وکړو.

همدا راز په دغه کمپونو کې به د نورو برخو تر څنګ موږ د سویپ په تخنیک هم کار وکړو چې دا زموږ لوبغاړي زده کړي، زما په خیال په شل اوریزو لوبو کې سپین توپ اچونه ډېره مهمه ده.

په دغه کمپونو کې به موږ له ځان سره یو شمېر چټک توپ اچونکي هم ولرو، هغه به موږ سره نه یوازې دا چې د دې لپاره وي چې زموږ توپوهونکو ته چټکه توپ اچونه وکړي، بلکې هغوی به په جال او تمرین کې زده کړه وکړي.

دغه ټولو برخو ته به موږ د جنورۍ په میاشت کې په خپل تمریناتي کمپ کې ځانگړې پاملرنه وکړو. که تاسې وگورئ نو د ویسټ انډیز پر وړاندې په لومړۍ شل اوریزه لوبه کې تر ماتې خوړلو وروسته موږ ښې لوبې وکړې او لوبلړۍ مو په خپل نوم کړه، ځکه چې افغان لوبډله په شل اوریزو لوبو کې ډېره قوي لوبډله ده او دا زموږ لپاره ښه خبره ده چې راتلونکی کال هم د شل اوریزو لوبو کال دی، چې اسیایي جام او شل اوریز نړیوال جام پکې ترسره کېږي.

موږ دغه ټولو لوبو ته له مخکې بشپړ چمتووالی نیسو، موږ ډېر غوره لوبغاړي لرو، خو زموږ لپاره ستره ننگونه دا ده چې موږ ډېرې منډې وکړو، نو ځکه موږ د خپلو لوبغاړو توپوهنې برخه ته ډېره پاملرنه کوو او همدا راز په ډگر ساتنه کې هم موږ کار کوو.

موږ په افغان لوبډله کې زړورو لوبغاړو ته اړتیا لرو، چې داسې زړور او مخکښ ځوانان وي چې هغوی د دې وړتیا ولري چې ښه لوبه وکړي، لکه رحمن الله گربز چې تاسې گورئ چې په شل اوریزو لوبو کې یې ښه لوبه ننداري ته وړاندې کړه، همدا راز په ټېسټ لوبه کې تاسې حمزه هوتک هم ولیده چې پنځه لوبغاړي یې وسوځول.

زموږ تر شا و خوا ډېر استعدادونه شته دي، خو زموږ کار دا دی چې دغه استعدادونه په ښنبه کړو، له دوی سره کار وکړو، دوی وتراشو او پرمختگ ورته ورکړو او موږ په دغه برخه کې تداوم ته هم اړتیا لرو.

ځینې مهال داسې هم کېږي چې ځوان لوبغاړي ښه لوبه ننداري ته نه وړاندې کوي او دا موږ خپه کوي، خو دا له ځوانانو سره تړلې خبره ده او د همدې لپاره به زموږ د ځوانو لوبغاړو تر څنګ تجربه کاره لوبغاړي هم لوبېږي، چې هغوی ارام مزاج ولري.

خو زه بیا هم دا خبره تکراراً وایم چې د یوه روزونکي په توگه زما لپاره دا ډېره مهمه ده چې په لوبډله کې ځوان او زړور لوبغاړي ولرم او تر څنګ یې ارام مزاجه لوبغاړي هم وي.

موږ په خپله لوبډله کې داسې توپوهونکي لرو چې هغوی کولای شي شل، دېرش او تر څلوېښت پورې منډې وکړي، خو تاسې ولیدل چې په هند کې د ویسټ انډیز پر وړاندې په لوبو کې موږ داسې لوبغاړی نه درلود چې هغه دې سلیزه ووهي، خو د ویې ټ انډیز توپوهونکو بیا سلیزې جوړې کړې او ډېر په اسانۍ یې لوبې تر خپل کنټرول لاندې راوستې، نو موږ په دې کار کوو او داسې لوبغاړي روزو چې هغوی مېدان کې سلیزې او پنځوسیزې جوړې کړي.

همدا راز موږ باید په دې برخه کار وکړو چې توپوهونکي اوږدې ملگرتیاوې جوړې کړي، لکه په شل اوریزو کې تر ۸۰ منډو پورې، یو ورځنیو لوبو کې تر ۱۲۰ منډو او په ټېسټ لوبو کې له دې هم زیاتې او اوږدې ملگرتیاوې باید جوړې شي.

زموږ لپاره دا ډېره ښه خبره نه ده چې موږ په پرلپسې ډول خپلې ویکټې له لاسه ورکوو، تاسې په ټېسټ لوبه کې ولیدل چې په دویمه پاټۍ کې زموږ لوبغاړو نږدې په ۹۷ منډو ۱۰ ویکټې له لاسه ورکړې او همدا راز په لومړۍ پاټۍ کې هم ۹ ویکټې یوازې د ۱۰۳ منډو په بدل کې وسوځېدې، چې داسې نورې بېلگې هم شته.

یو ځل بیا هم دا خبره یادوم، چې توپوهنه زما لپاره ډېره مهمه ده، که زموږ لوبغاړي وکولای شي چې اوږدې ملگرتیاوې جوړې کړي او داسې توپوهونکي وروزو چې له موقعې په استفادې هغوی سلیزې ووهي، نو په دې کې بیا هېڅ شک نشته چې موږ ته به بریاوې ترلاسه کول ډېرې اسانې وي او موږ به وکولای شو چې سیالیو لوبډلو ته ستر هدفونه ورکړي.

بیا خو نو دا ښکاره خبره ده چې موږ خطرناک توپ اچونکي لرو او هغوی کولای شي چې په سترو لوبډلو فشار راوړي او هغوی دې ته مجبوره کړي چې خپلې ویکټې له لاسه ورکړي.

د اسیایي لوبډلو ایمرجېنګ جام

د اسیایي لوبډلو ایمرجېنګ جام په بنګله دېش هېواد کې د نومبر په ۱۴مه نېټه پیل او د نومبر تر ۲۳مې نېټې پورې یې دوام وکړ، چې په پایلوبه کې یې پاکستان او بنګله دېش لوبډلې سره مخامخ شوې، چې د پاکستان لوبډلې د بنګله دېش لوبډلې ته ماته ورکړه او د اسیایي لوبډلو ایمرجېنګ جام کې یې اتلولي خپله کړه.

په دغه جام کې د افغانستان په ګډون نیپال، هند، سریلانکا، عمان، پاکستان، هانګ کانګ او بنګله دېش لوبډلو ګډون درلود، چې په دوه ګروپونو باندې وېشل شوې وې. د افغانستان ایمرجېنګ لوبډله په (ب) ګروپ کې د پاکستان، عمان او سریلانکا لوبډلو سره یو ځای وه.

افغانستان په خپلو درې لومړیو لوبو کې دوه لوبو کې بریا خپله او نیمه پایلوبې ته یې ځان ورساوه، چې په نیمه پایلوبه کې یې د بنګله دېش له ایمرجېنګ لوبډلې ماتې وخوړه.

افغانستان د پاکستان پر وړاندې

د نومبر په ۱۴مه نېټه د افغانستان ایمرجېنګ لوبډلې د پاکستان ایمرجېنګ لوبډلې سره خپله لومړۍ لوبه ترسره کړه. په دغه لوبه کې پچه افغان لوبډلې وګټله او لومړی یې توپوهنه غوره کړه.

افغانستان په ۴۲.۲ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۳۸ منډې وکړې، چې یاد هدف د پاکستان لوبډلې په ۳۵.۳ اورونو کې د ۲ لوبغاړو په سوځېدو پوره او افغان لوبډلې ته یې په ۸ ویکټو ماتې ورکړه.

د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه محمد محسن ته ورکړل شوه، چې ۴ ویکټې یې ترلاسه کړې وې.

افغانستان د عمان پر وړاندې

د نومبر په ۱٦مه نېټه د افغانستان ایمرجېنګ لوبډلې د عمان ایمرجینګ لوبډلې سره خپله دویمه لوبه ترسره کړه. په دغه لوبه کې افغان لوبډلې د لوبې پچه وګټله او لومړی یې د عمان لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

عمان لوبډلې په ۴۴ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۵۳ منډې وکړې، چې یاد هدف د افغانستان لوبډلې په ۳۰.۵ اورونو کې د ۱ لوبغاړي په سوځېدو پوره او په ۹ ویکټو یې د عمان لوبډلې ته ماته ورکړه.

د افغانستان لپاره عبدالمالک ۹۱ زیاتې منډې ترلاسه کړې. همدا راز په توپ اچوونکو کې طارق ستانکزي ۴ او عبدالواسع ۲ لوبغاړي وسوځول.

د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه طارق ستانکزي ته ورکړل شوه.

افغانستان د سریلانکا پر وړاندې:

د نومبر په ۱۸مه نېټه د افغانستان ایمرجېنګ لوبډلې د سریلانکا ایمرجېنګ لوبډلې سره خپله دریمه لوبه ترسره کړه. په دغه لوبه کې افغانستان د لوبې پچه وګټله او لومړی یې د سریلانکا لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

سریلانکا لوبډلې په ۴۹.۵ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۲۳۸ منډې ترلاسه کړې، چې یاد هدف د افغانستان لوبډلې په ۴۴.۵ اورونو کې د ۳ لوبغاړو په سوځېدو پوره او په ۷ ویکټو یې د سریلانکا لوبډلې ته ماتې ورکړه.

د افغانستان لپاره شاهد الله سلیزه ووهله او ۱۰۲ ناسوځېدلې منډې یې وکړې، همدا راز درویش رسولي ٦۱ او عبدالمالک ۴۷ منډې وکړې. په توپ اچونه کې بیا عظمت الله عمرزي او عبدالواسع ۳-۳ لوبغاړي وسوځول.

د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه شاهدالله ته ورکړل شوه.

په خپلو درې لوبو کې د دوه لوبو ګټلو سره د افغانستان ایمرجېنګ لوبډلې نیمه پایلوبې ته لار پیدا کړه.

افغانستان د بنګله دېش پر وړاندې

د اسیایي لوبډلو ایمرجېنګ جام په دویمه نیمه پایلوبه کې د افغانستان ایمرجېنګ لوبډله د نومبر په ۲۱مه نېټه د بنګله دېش ایمرجېنګ لوبډلې سره مخامخ شوه.

په پیل کې د لوبې پچه بنګله دېش وګټله او لومړی یې افغانستان ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

افغانستان په ټاکلو ۵۰ اورونو کې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۲۲۸ منډې وکړې، چې له ډلې یې درویش رسولي ۱۱۴، وحید الله شفق ۳۴ او طارق ستانکزي ۳۳ منډې وکړې.

د بنګله دېش له لوري حسن محمود او سومیه سرکار ۳-۳ ویکټې ترلاسه کړې.

د ۲۲۹ منډو هدف د بنګله دېش لوبډلې په ۳۹.۵ اورونو کې د ۳ لوبغاړو په سوځېدو پوره کړ او افغان لوبډلې ته یې په ۷ ویکټو ماته ورکړه. د دوی له لوري سومیه سرکار ٦۱ او نجمل حسېن شانتو ۵۹ منډې ترلاسه کړې.

د افغانستان له لوري عبدالواسع ۲ او عظمت الله عمرزي ۱ ویکټ ترلاسه کړه او د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه سومیه سرکار ته ورکړل شوه.

له دې سره د افغانستان ایمرجېنګ لوبډلې سفر پای ته ورسېد او د نومبر په ۲۳مه نېټه بېرته هېواد ته راستنه شوه.

د افغانستان او هند ۱۹ کلنو لوبډلو ترمنځ پنځه یو ورځنۍ سیالۍ ترسره شوې

د افغانستان په کوربه توب په هند کې د افغانستان او هند ۱۹ کلنو کم عمره ځوانانو لوبډلو ترمنځ د پنځه یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ نومبر له ۲۲مې تر ۳۰مې نېټې پورې د ایکانا په (ب) لوبغالي کې ترسره شوه، چې د هند ۱۹ کلنو کم عمره ځوانانو په ۲-۳ سره په دغه لوبلړۍ کې بریا خپله کړه.

لومړۍ لوبه (۲۲ نومبر):

په لومړۍ لوبه کې د هند ۱۹ کلنو کم عمره ځوانانو لوبډلي د لوبې پچه وګټله او د افغانستان ۱۹ کلنو کم عمره ځوانانو لوبډلي ته یې د توپوهنې بلنه ورکړه.

افغان لوبډلي په ۴۷.۱ اوورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۷۱ منډې وکړې، چې له ډلې یې صدیق الله اتل ۳۲، عبدالرحمن رحماني ۳۰ او رحمن الله ځدران ۲۹ منډې وکړې.

د ۱۷۲ منډو هدف د هند لوبډلي په ۲۷.۴ اوورونو کې د ۱ لوبغاړي په سوځېدو پوره کړ او د پنځه یو ورځنیو لوبو لوبلړۍ کې یې لومړی بریا په خپل نوم کړه.

دویمه لوبه (۲۴ نومبر):

په دویمه لوبه کې هم د هند لوبډلمشر پچه وګټله او لومړی یې افغان

لوبډلي ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

افغان لوبډلي په ټاکلو ۵۰ اوورونو کې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۱۸۸ منډې وکړې، چې له ډلې یې عبدالرحمن رحماني ۵۷ ناسوځېدلي، رحمن الله ځدران ۴۷ او فرهان زاخېل ۲۷ منډې وکړې.

د هند له لوري ورما، سوتر او رکشان ۲-۲ او اکاش سینګ او جوشي ۱-۱ ویکټ ترلاسه کړه.

د ۱۸۹ منډو هدف د هند لوبډلي په ۴۲.۳ اوورونو کې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو پوره کړ او په دویمه یو ورځنۍ لوبه کې یې هم بریا خپله کړه. د دوی له ډلې شاشوت راوت ۵۳، جسوال ۳۸ ناسوځېدلي او تیلک ورما ۲۹ منډې وکړې.

د افغان لوبډلي له لوري عابد محمدي او نور احمد لکنوال ۲-۲ ویکټې واخیستې.

درېیمه لوبه (۲۶ نومبر):

په درېیمه لوبه کې افغان لوبډلي پچه وګټله او لومړی یې د هند لوبډلي ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

هند په ۴۹ اوورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۵۲ منډې وکړې،

چې شوبانګ هیګړې ۴۶ او ویکرانت بهاډوریا ۳۹ منډې ترلاسه کړې.

د افغان لوبډلي له لوري عابد محمدي ۴، عبدالرحمن رحماني ۳، عابدالله تنیوال ۲ او شفیق الله غفاري ۱ ویکټ ترلاسه کړه.

د ۱۵۳ منډو هدف افغان لوبډلي په ۴۶.۲ کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو پوره او په درېیمه یو ورځنۍ لوبه کې یې په ۳ ویکټو د هند لوبډلي ته ماتې ورکړه.

د افغان لوبډلي له لوري عمران میر ۳۴، محمد اسحاق ۳۲، عبدالرحمن رحماني ۲۶ ناسوځېدلي او رحمن الله ځدران ۲۱ منډې ترلاسه کړې.

د هند له لوري کارتک تیاګي ۳ او شوبانګ هیګړې ۲ ویکټې ترلاسه کړې.

د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه عبدالرحمن رحماني ترلاسه کړه.

څلورمه لوبه (۲۸ نومبر):

په څلورمه لوبه کې د لوبې پچه هندي لوبډلي وګټله او لومړی یې افغان لوبډلي ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

افغان لوبډلي په ۳۵ اوورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۱۳ منډې وکړې، چې عمران میر ۴۴ او فرهان زاخېل ۲۳ منډې وکړې.

د هند له لوري مانو سوتهار ۵، ویدیادهار پټیل او شوبانګ هیګړه ۲-۲ ویکټې ترلاسه کړې.

د ۱۱۴ منډو هدف د هند لوبډلي په ۲۹.۱ اوورونو کې د ۵ لوبغاړو په سوځېدو پوره کړ او په څلورمه سیالۍ کې یې هم بریا خپله کړه.

د دوی له لوري کمار کشاګرا ۲۹ او سارو ډاګر ۲۴ ناسوځېدلي منډې وکړې.

د افغان لوبډلي له لوري نور احمد ۳، شفیق الله غفاري او جمشید میر علي خېل ۱-۱ ویکټ ترلاسه کړه.

پنځمه لوبه (۳۰ نومبر):

په پنځمه لوبه کې د لوبې پچه هندي لوبډلي وګټله او توپوهنه یې غوره کړه.

هند په ۴۹.۳ اوورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۵۷ ترلاسه کړې چې له ډلې یې ویکرانت بهاډوریا ۲۹ او کمار کشاګرا ۲۴ منډې وکړې.

د افغان لوبډلي له لوري نور احمد ۳، عابد محمدي او شفیق الله غفاري ۲-۲، عبدالرحمن رحماني او اصف موسی زي ۱-۱ ویکټ ترلاسه کړه.

د ۱۵۸ منډو هدف افغان لوبډلي په ۴۷.۳ اوورونو کې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو پوره کړ او د لوبلړۍ په وروستۍ لوبه کې یې په ۲ ویکټو بریا خپله کړه. د افغان لوبډلي له لوري اصف موسی زي ۴۲، عمران میر ۳۱ او شفیق الله غفاري ۲۵ ناسوځېدلي منډې وکړې.

د هند له لوري بیا مانو سوتهار ۳ او شوبانګ هیګړې ۲ افغان لوبغاړي وسوځول.

د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه شفیق الله غفاري ته ورکړل شوه او د لوبلړۍ د غوره لوبغاړي جایزه بیا مانو سوتهار ترلاسه کړه.

د یادولو ده چې د پنځه یو ورځنیو لوبو لوبلړۍ کې ۳ لوبې هند او ۲ لوبې افغانستان وګټلې.

T20I
Bowling
Rankings
8
Mujeeb
Ur Rahman
Rating: 652
T20I
Bowling
Rankings
1
Rashid
Khan
Rating: 757
T20I
All-Rounder
Rankings
1
Mohammad
Nabi
Rating: 339

د زونونو په کچه تر شپاړس کلنو کم عمره ځوانانو سیالیو جام د سپین غر لوبډلې ترلاسه کړ

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې د زونونو په کچه د شپاړس کلنو کم عمره ځوانانو سیالۍ پیل کړې وې، چې په دغه سیالیو کې پایلوبه په مساوي ډول پای ته ورسېده او د سپین غر زون لوبډلې د سیالیو جام ترلاسه کړ.

دغه سیالۍ چې د نومبر په ۱۲مه نېټه د ننګرهار په غازي امان الله خان لوبغالي کې پیل شوې وې، پایلوبه یې د همدغې میاشتې په ۲۲مه نېټه ترسره شوه.

په یادو سیالیو کې د بوست، بند امیر، امو، سپین غر او مس عینک زون لوبډلو ګډون درلود، چې ټول لوبغاړي یې تر شپاړس کلونو کم عمرونه درلودل.

یادې سیالۍ ۴۰ اوریزې وې، چې هرې لوبډلې په کې څلور لوبې ترسره

کړې او د جدول د سر دوه لوبډلو پایلوبې ته لار پیدا کړه. د جدول په سر کې د سپین غر لوبډله او په دویم مقام بیا د بند امیر لوبډله راغلې وه.

د سپین غر او بند امیر ترمنځ د یادو سیالیو پایلوبه ترسره کېدونکې وه، خو د باران له امله دغه لوبه ترسره نه شوه، دواړو لوبډلو په ګډه جام پورته کړ او د ډېرو نومرو په درلودلو سره د سپین غر زون لوبډلې دغه جام ترلاسه کړ.

په دغه سیالیو کې د غوره لوبغاړي جایزه فرهاد عثماني ترلاسه کړه، د غوره توپوهونکي جایزه بلال او د غوره توپ اچونکي جایزه بیا نصیر معروف خېل ته ورکړل شوه.

یادې سیالۍ په سپینو کالیو او سور توپ باندې ترسره شوې. همدا راز دغه سیالیو ته چې کوم لوبغاړي غوره شوي و، هغه په هر زون کې د ولایتي لوبډلو ترمنځ له سیالیو ترسره کېدو وروسته غوره شوي و، چې په خپلو خپلو لوبډلو کې ښه ځلېدلي و.

د زونونو په کچه تر شپاړس کلنو کم عمره ځوانانو سیالیو موخه دا وه چې د ۱۷ کلنو کم عمره لوبډلې او ۱۹ کلنو کم عمره لوبډلې لپاره وړ او پیاوړي لوبغاړي پیدا کړای شي، چې په نړیواله کچه د هېواد غوره استازولي وکولای شي.

د احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس دویمه برخه لوبې پیل شوې





د افغانستان په کورني کرکټ کې د سترو څلور ورځنیو کورنیو (فرسټ کلاس) سیالیو دریم پړاو د روان کال په اپرېل میاشت کې پیل شوی و چې سږکال په لومړي ځل دغه سیالۍ په دوه برخو وېشل شوې وې.

په دې سیالیو کې د هېواد په کچه د ٦ زونونو لوبډلې لوبېږي او د ملي لوبډلې، نولس کلنې کم عمره لوبډلې او الف لوبډلې لوبغاړو ترڅنګ په کې د کورني کرکټ لوبغاړي هم لوبېږي.

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې مسوول احمد شاه احمدي وایي، د سږ کال دریم پړاو احمد شاه ابدالي (فرسټ کلاس) سیالیو لومړۍ برخه کې ١٥ لوبې د اپرېل-مۍ میاشتو کې وشوې چې دویمه برخه یې د نورو کورنیو ټورنامنټونو لکه (لېست اې او شپږیزه) سیالیو له کبله د سږ کال نومبر میاشت ته وځنډېده.

ټاکل شوې وه چې د فرسټ کلاس سیالیو دویمه برخه به د نومبر په ٥مه نېټه پیلېږي خو د دې لپاره چې په کې د ملي لوبډلې لوبغاړي هم ولوبېږي، نو د نومبر میاشتې په وروستۍ اونۍ کې پیل شوې.

د افغانستان د غوراوي کمېټې د معلوماتو په اساس، د سږ کال ټورنامنټ لپاره یې زیاتو لوبغاړو ته د چانسونو برابرولو زمینه برابره کړې ده.

د غوراوي کمېټې د پرېکړې له مخې، د سږ کال احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس ټورنامنټ لپاره یې پلان دا دی چې ټول هغه لوبغاړي چې د لوبډلو برخه وي کم ترکمه باید د څلورو لوبو ترسره کولو چانس ترلاسه کړي.

دوی د دې پرېکړې موخه ټولو غوره شویو لوبغاړو ته د انډول له مخې چانس برابرول او د دوی د استعدادونو معلومول یادوي.

د غوراوي کمېټه زیاتوي چې هغه لوبغاړو ته چې د دې ټورنامنټ په لومړۍ برخه کې په احتیاطي ډله کې شامل و، دا ښه چانس دی تر څو د میاشتنیو معاشاتو ترلاسه کولو لپاره په (سینټرل کنټرېکټ) کې هم شامل شي.

ټاکل شوې ده پیل شوی ټورنامنټ به د دسمبر میاشتې تر ٢٦مه نېټې روان وي چې په کې به بند امیر لوبډله له خپلې اتلولۍ دفاع کوي.

د احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس څلور ورځنۍ سیالۍ د لومړي ځل لپاره په ٢٠١٧ کال کې پیل شوې چې هغه مهال افغانستان بشپړ غړیتوب نه درلود، چې ورپسې تېر کال د دې ټورنامنټ دویم پړاو داسې مهال ترسره شو چې افغانستان د لومړي ځل لپاره بشپړ غړیتوب ترلاسه کړی و.

په دواړو وروستیو ټورنامنټونو کې بند امیر لوبډلې د زیاتو امتیازونو په ګټلو سره لومړي مقامونه او د اتلولۍ جامونه ګټلي دي.

AHMAD SHAH
ABDALI
FIRST CLASS TOURNAMENT 2019
27NOV - 24DEC

Match	Date	Time	Team		Team
MATCH 1	27 NOVEMBER 2019	9:00 AM	SPEENGHAR	VS	AMO
MATCH 2	27 NOVEMBER 2019	9:00 AM	MIS-E AINAK	VS	BOST
MATCH 3	3 DECEMBER 2019	9:00 AM	BAND-E AMIR	VS	SPEENGHAR
MATCH 4	3 DECEMBER 2019	9:00 AM	MIS AINAK	VS	AMO
MATCH 5	9 DECEMBER 2019	9:00 AM	BOST	VS	AMO
MATCH 6	9 DECEMBER 2019	9:00 AM	BAND-E AMIR	VS	MIS AINAK
MATCH 7	15 DECEMBER 2019	9:00 AM	SPEENGHAR	VS	MIS AINAK
MATCH 8	15 DECEMBER 2019	9:00 AM	BOST	VS	BAND-E AMIR
MATCH 9	21 DECEMBER 2019	9:00 AM	BAND-E AMIR	VS	AMO
MATCH 10	21 DECEMBER 2019	9:00 PM	BOST	VS	SPEENGHAR

GHAZI AMANULLAH KHAN CRICKET STADIUM (matches 1, 3, 5, 7, 9)

KHOST CRICKET STADIUM (matches 2, 4, 6, 8, 10)



The Leading ISP/ICT Company In Afghanistan

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan | +93 (0) 798 85 85 85 | www.ranatech.com | info@ranatech.com

411 معلومات
INFORMATION

ستاسو دمعلوماتو نړی

معلومات 411 ، دعمومي معلوماتو ځانګه د مسلکي او تجربه لرونکو استازو په لرلو د اړینو او کره معلوماتو په وړاندې کولو سره 24 ساعته د خپلو ګرانو هیوادوالو په چوپړکې دی.

همدا مهال ۴۱۱ سره اړیکه ټینګه کړئ او خپل معلومات ترلاسه کړئ.

411

/malomaat.af | www.malomaat.af | info@malomaat.af

شل اوریزو

لوبو کې غوره توپ اچونه

د کرکټ په لوبو کې هره ورځ نوي ریکارډونه جوړېږي، چې په دې لړ کې د هند او بنګله دېش ترمنځ د لوبلړۍ په وروستۍ شل اوریزه لوبه کې د هند دیپک چاهار د شل اوریزو لوبو تر ټولو غوره توپ اچونه ترسره کړه او دغه ریکارډ یې په خپل نوم کړ. په دې لړ کې د دیپک چاهار په ګډون د پنځه لوبغاړو ریکارډ رااخلو، چې د شل اوریزو لوبو په لړ کې یې په یوه لوبه کې غوره توپ اچونه ترسره کړي وي.

دیپک چاهار

د هندۍ لوبډلې ښي لاسی مېډیم توپ اچونکی دیپک چاهار چې تر اوسه یې یوازې په ۷ نړیوالو شل اوریزو لوبو کې ګډون کړی دی، هغه په خپله اوومه سیالۍ کې د بنګله دېش پر وړاندې د شل اوریزو لوبو تر ټولو غوره توپ اچونه ترسره کړه.

نوموړي د هند په ناګپور کې د نومبر په ۱۰مه نېټه د بنګله دېش سره په لوبه کې په ۳.۲ اورونو کې د ۷ منډو په ورکولو سره ٦ لوبغاړي وسوځول چې نه یوازې د شل اوریزو لوبو غوره توپ اچونه یې ترسره کړه بلکې خپلې لوبډلې یې هم بریا ته ورسوله.

همدا راز نوموړي په یاده سیالۍ کې هېټریک هم ترلاسه کړ. هغه په دغه سیالۍ کې د لیټون داس، سومیه سرکار، محمد مېتون، امین الاسلام، شفیع الاسلام او مستفیظ الرحمن ویکټې ترلاسه کړې.

نوموړی همدا راز نه یوازې دا چې په دغه لوبه کې د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه، بلکې د درې شل اوریزو لوبو د لوبلړۍ غوره لوبغاړی هم اعلان شو. نوموړي په دغه درې سیالیو کې ټولې ۸ ویکټې ترلاسه کړې.

۲۷ کلن دیپک چاهار د هند لپاره په ۷ نړیوالو شل اوریزو لوبو کې ګډون کړی دی او د ۱۰.۰۰ په اوسط او د ۵.۷۵ په اکانومۍ سره یې ۱۴ ویکټې ترلاسه کړې دي.

نوموړي په یوه نړیواله شل اوریزه لوبه کې هم ګډون کړی او ۱ ویکټ یې ترلاسه کړې ده.

همدا راز په ۴۵ فرسټ کلاس سیالیو کې نوموړي ۱۲٦، په لیسټ اې ۴۴ سیالیو کې ۵۷ او په ٦۵ شل اوریزو کې یې بیا ۸۰ ویکټې ترلاسه کړې دي.

اجېنتا مېنډس

د سریلانکا توپ اچونکي اجېنتا مېنډس بیا دوه ځلې په نړیوالو شل اوریزو لوبو کې غوره توپ اچونه ترسره کړې ده، تر دیپک چاهار مخکې لومړۍ او دویمه غوره توپ اچونه د اجېنتا مېنډس وه، خو اوس دویمه او دریمه غوره توپ اچونه د هغه په برخه ده.

په لومړي ځل نوموړي د ۲۰۱۱ کال د اګست په اتمه نېټه له اسټرالیا سره په لوبه کې تر ټولو غوره توپ اچونه ترسره کړه. هغه په دغه لوبه کې ۴ اورونه ترسره کړل او د ۱٦ منډو په بدل کې یې ٦ لوبغاړي وسوځول، چې یو اور یې مېډین هم کړ.

نوموړي په دغه لوبه کې د شین واټسن، ډیوېډ وارنر، شان مارش، سټیو سمیت، برېډ هاډین او مچل جانسن ویکټې ترلاسه کړې او سریلانکایي لوبډله یې بریالۍ کړه. په دغه لوبه کې نوموړي د غوره لوبغاړي جایزه هم ترلاسه کړه.

تر هغه وروسته اجېنتا مېنډس د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۸مه نېټه د زمبابوې پر وړاندې یو ځل بیا غوره توپ اچونه ترسره او خپل پخوانی ریکارډ یې هم مات کړ.

د زمبابوې پر وړاندې هغه ۴ اورونه ترسره کړل چې د ۸ منډو په ورکولو سره یې ٦ لوبغاړي وسوځول او ۲ اورونه یې مېډین کړل.

په دغه لوبه کې نوموړي همېلټون مسکدزا، ووسي سباندا، برېنډن ټېلر، ایلټون چیګومبورا، پراسپر اوتسیا او کیلي جرویس وسوځول او د سریلانکا لوبډلې ته یې د ۸۲ منډو په توپیر بریا ور په برخه او د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه یې ترلاسه کړه.

اجېنتا مېنډس د سریلانکا لوبډلې لپاره ۱۹ ټېسټ، ۸۷ یو ورځنۍ او ۳۹ شل اوریزې لوبې ترسره کړې دي، چې ۷۰، ۱۵۲ او ٦٦ ویکټې یې ترلاسه کړې دي.

يوزيندرا چاهل

د هندۍ لوبډلې ليګ بريک ګوګلي توپ اچونکي يوزيندرا چاهل هم د غوره توپ اچوني کارنامه ترسره کړې ده. نوموړي په ۲۰۱۷ کې د فبرورۍ په لومړۍ نېټه د هند په بنګلور کې د انګلستان پر وړاندې دغه غوره توپ اچونه ترسره کړې وه.
يوزيندرا چاهل په دغه لوبه کې ۴ اورونه ترسره کړل او د ۲۵ منډو په بدل کې يې ٦ لوبغاړي وسوځول.
د هند لوبډلې د انګلستان لوبډلې ته د ۲۰۳ منډو هدف ټاکلی و، چې د انګلستان ټوله لوبډله په ۱۲۷ منډو وسوځېدله. چاهل په دغه لوبه کې د سام بيلينګس، جو روټ، اوين مورګن، بين سټوکس، معين علي او کريس جورډن ويکټې ترلاسه کړې او خپله لوبډله يې بريالۍ کړه چې د غوره لوبغاړي جايزه يې هم ترلاسه کړه.
۲۹ کلن يوزيندرا چاهل د هند لپاره ۵۰ يو ورځنۍ او ۳۴ شل اوريزې لوبې ترسره کړې دي او ۸۵ او ۵۰ ويکټې يې ترلاسه کړې دي.

رنګانا هرات

د سريلانکا لوبډلې ورو توپ اچونکي رنګانا هرات که څه هم په لږو شل اوريزو لوبو کې ګډون کړی دی، خو يو له هغه توپ اچوونکو څخه دی چې په يوه لوبه کې يې ښه توپ اچونه ترسره کړې ده.
هغه په ۲۰۱۴ کې د مارچ په ۳۱مه نېټه دغه کارنامه د نيوزيلېنډ لوبډلې پر وړاندې ترسره کړه.
په دغه لوبه کې سريلانکا لوبډلې لومړی توپوهنه وکړه او د نيوزيلېنډ لوبډلې ته يې د ۱۲۰ منډو اسانه هدف ورکړ، خو په ځواب کې د سريلانکا لوبډلې ډېره په زړه پورې توپوهنه ترسره کړه او د نيوزيلېنډ ټوله لوبډله يې په ٦۰ منډو وسوځوله او په ۵۹ منډو يې بريا خپله کړه.
په دغه بريا کې رنګانا هرات خپله وړتيا ښکاره کړه او ۵ لوبغاړي يې وسوځول. نوموړي ۳.۳ اورونه ترسره کړل چې د ۳ منډو په ورکولو سره يې ۵ لوبغاړي وسوځول او همدا راز ۲ اورونه يې مېډين هم کړل.
هغه د برېنډن مککالم، راس ټېلر، جېمز نيشان، لوک رونچي او ټرينټ بولټ ويکټې ترلاسه کړې. همدا راز دوه لوبغاړي يې د منډې پر مهال هم وسوځول.
په دغه لوبه کې نوموړی د لوبې غوره لوبغاړی هم اعلان شو.
رنګانا هرات د سريلانکا لپاره په ۹۳ ټېسټ، ۷۱ يو ورځنيو او ۱۷ شل اوريزو لوبو کې ګډون کړی و، چې ۴۳۳، ۷۴ او ۱۸ ويکټې يې ترلاسه کړې دي.

راشد خان

افغان لوبډلمشر راشد خان چې ليګ بريک ګوګلي توپ اچونه ترسره کوي، په ۲۰۱۷ کال کې د ايرلېنډ پر وړاندې غوره توپ اچونه ترسره کړه.
دغه لوبه چې د ۲۰۱۷ کال د مارچ په ۱۰مه نېټه د هند په ګريټر نويډا لوبغالي کې د افغانستان او ويسټ انډيز ترمنځ ترسره شوه، افغانستان پکې لومړی توپوهنه وکړه او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې يې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو ۱۸۴ منډې وکړې.
خو لوبه د باران له امله له ځنډ سره مخامخ شوه، نو ايرلېنډ لوبډلې ته په ۱۱ اورونو کې ۱۱۱ منډې هدف ورکړل شو، چې افغانستان د D/L ميتوډ له لارې په ۱۷ منډو بريا خپله کړه.
راشد خان په دغه لوبه کې ۲ اورونه ترسره کړل چې ۱ اور يې پکې مېډين کړ او همدا راز د ۳ منډو په بدل کې يې ۵ لوبغاړي وسوځول او افغان لوبډله يې بريا ته ورسوله، چې په دغه لوبه کې راشد خان او نجيب تره کي ته په ګډه د غوره لوبغاړي جايزه ورکړل شوه.
په دغه لوبه کې راشد خان د کيوين اوبراين، ګېري ويلسون، لورکان ټوکر ګريګ تامپسن او ببري مککارتي ويکټې ترلاسه کړې او د ويليم پورټرفيلډ کېچ يې هم واخيست.
راشد خان د افغانستان لپاره ۳ ټېسټ، ۷۱ يو ورځنۍ او ۴۲ شل اوريزې لوبې ترسره کړې دي، چې ۲۰، ۱۳۳ او ۸۱ ويکټې يې ترلاسه کړې دي. هغه همدا راز د ټېسټ سياليو په يوه لوبه کې د ۱۰۴ منډو په بدل کې ۱۱ ويکټې ترلاسه او يو ورځنيو لوبو کې يې بيا د ۱۸ منډو په بدل کې ۷ لوبغاړي سوځولي دي.

«د ټیټاني سولي راتلو ارمان لرم»

حمزه هوتک

حمزه هوتک لومړنی ټېسټ لوبه د ویسټ انډیز پر وړاندې ترسره کړه او ٦ لوبغاړي یې وسوځول، همدا راز هغه لومړنی افغان توپ اچونکی شو چې د خپلې لومړنی ټېسټ لوبې په یوه پاړی کې یې ٥ لوبغاړي وسوځول.

۲۸ کلن حمزه هوتک چپ لاسی ارتوډوکس ورو توپ اچونکی دی او په ښي لاس توپوهنه ترسره کوي. هغه په لومړي ځل د افغانستان ۱۹ کلنې کم عمره لوبډلې لپاره د ایي سي سي ۱۹ کلنو کم عمره نړیوال جام کې ولوبېده چې په نیوزیلنډ کې ترسره شو. همدا راز نوموړي په فرسټ کلاس سیالیو کې د ایي سي سي نړیوال کپ کې د افغانستان لو بډ لي استازولي وکړه چې په ۱۳-۲۰۱۱ کې ترسره شو. افغانستان چې کله لومړی نړیواله لوبه د ایي سي سي بشپړ غړیتوب درلودونکي لوبډلې پر وړاندې ترسره کوله، نو هغه لوبه د حمزه هوتک هم لومړنی لوبه وه. په دغه لوبه کې چې د پاکستان پر وړاندې په ۲۰۱۲ کې ترسره شوه، حمزه هوتک ۴ اورونه ترسره کړل، خو کومه ویکټ یې ترلاسه نه کړه او ۲۲ منډې یې وکړې.

حمزه هوتک د ۲۰۱۸ کال په احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو تر ټولو زیاتې ویکټې ترلاسه کړې وې، هغه په ۱۰ فرسټ کلاس لوبو کې ٦٧ لوبغاړي سوځولي و. همدا راز د افغانستان غوره لیګ په لومړي پړاو کې د کندهار نایټس لوبډلې لپاره لوبېدلی و. نوموړي تر دې مهاله پورې د افغانستان لپاره په ۳۱ یو ورځنیو او ۳۱ شل اوریزو لوبو کې ګډون کړی دی، چې په ترتیب سره یې ۴۰ او ۲۹ لوبغاړي سوځولي دي. هغه په یو ورځنیو لوبو کې په یوه لوبه کې د ۱۷ منډو په بدل کې ۴ او په شل اوریزو لوبو کې د ۳۹ منډو په بدل کې ۳ لوبغاړي سوځولي دي.

د افغانستان په وروستی ټېسټ لوبه کې چې له ویسټ انډیز سره په هند کې ترسره شوه، حمزه هوتک ډیبیو وکړه او په خپله لومړنی لوبه کې یې په یوه پاړی کې پنځه لوبغاړي وسوځول.

د (افغان کرکټ) مجلې لپاره مو د حمزه هوتک سره ځانګړې مرکه کړې، چې تاسې یې لوستو ته رابولو.

کرکټ دې کله او څنګه شروع کړ؟

د کرکټ لوبې سره مې له کوچنیوالي ډېره مینه درلوده او ارمان مې درلود چې په دې لوبه کې د افغانستان استازیتوب وکړم.

د لومړي ځل لپاره دې چېرته کرکټ وکړ؟

په لومړي ځل مې د ننګرهار په کلیو او باندو کې د خپلو همزولو سره کرکټ پیل کړی و.

کرکټ ته چا ډېر هڅولی یې؟

خپلو نږدې ملګرو به کرکټ ته ډېر هڅولم، هغوی به راته ویل چې د کرکټ په لوبه کې ډېره ورتیا لرې.

له خپل ورځني ژونده خومره خوشحاله یې؟

الحمدالله، له خپل ژونده ډېر خوشحاله یم، ځکه هېوادوال راته ډېره مینه راکوي.

که کرکټ دې نه کولو، نو څه به دې کول؟

که ما کرکټ نه کاوه، نو نبایي ډېر ښه ډاکټر وای.

لومړی توپ دې چاته کړی؟

: د پاکستان پر وړاندې په نړیوالې پنځوس اوریزه لوبه کې عمران فرحت ته مې لومړی توپ کړی دی.

په ماشومتوب کې دې د کوم بهرني لوبغاړي لوبه خوښوله؟

د خپلو لوبغاړو ترڅنګ مې د شاهد اپریدي لوبه خوښېده.

ډېری وخت په نړیوالو لوبو کې لومړی اور ترسره کولو ته راځې، دلیل یې څه دی؟

دا خو د لوبډلمشر باور دی چې په توپ اچونکي یې کوي، تر څو د لوبې د پلان تر مخې توپ اچونه وکړي او بله موخه یې دا ده، چې د ډېرو منډو د جوړولو مخه ونیول شي.

د ویسټ انډیز پر وړاندې دې لومړی ټیسټ لوبه ترسره کړه او ډېر ښه وځلېدې، خومره تیاری دې ورته نیولی و؟

: زه ډېر خوشحاله یم، ځکه کله چې مې د ټیسټ لوبې په نوملړ کې خپل نوم ولیده نو پرېکړه مې وکړه چې باید له دې فرصته ګټه پورته کړم او د افغانستان لپاره ښه لوبه ترسره کړم، هماغه و چې د روزونکي او لوبډلمشر په مشوره مې توپ اچونه او توپوهنه کې ښه لوبه وکړه او په لومړي پاڼي کې مې د زیاتو منډو تر څنګ ۵ ویکټې هم ترلاسه کړې.

د ویسټ انډیز پر وړاندې په وروستۍ ټیسټ لوبه کې ستاسې د ښه ځلېدو راز په څه کې و؟

: په ټیسټ لوبه کې مهمه خبره دا ده چې زړه به نه تنګوې او داسې ځای کې به توپ اچوې چې د توپوهونکي ورته زړه تنګ شي او د غلط شاټ وهلو هڅه وکړي.

د لوبغالي په کومه سیمه کې ښه ډګر ساتنه کولی شې؟

زه چپ لاسی یم نو په میډ ویکټ کې ښه ډګر ساتنه کوم.

د سفر پر مهال د کوم لوبغاړي سره ډېر خوشحاله یې؟

د ټولو لوبغاړو سره خو د حشمت سره بیا ډېر خوښ اوسم.

د توپ اچونې پر مهال کله ډېر غوسه کېږې؟

کوښښ کوم چې ډېر ارامه واوسم، خو چې د ضرورت په وخت کې له ډګر ساتونکي کېچ وغورځي نو بیا غوسه کېږم.

د لومړي ځل لپاره دې چې د افغانستان لباس پر تن کړ او په نړیوال میدان کې ولاړ وې، هغه احساس دې راته وواېه؟

بیانول یې دلته اسانه نه دي، خو ما له حده زیات د خوشحالۍ احساس کړی و.

په کلیو او باندو کې به دې چې کرکټ کاوه، په کوم پوزیشن به دې توپ اچونه کوله؟

هغه وخت کې ما چټکه توپ اچونه کوله، لومړي اور ته به یې راوستلم.

: لومړي ځل لپاره دې په کومه لوبډله کې د افغانستان استازیتوب وکړ؟

د افغانستان په ۱۷ کلنو لوبډله کې.

د کرکټ لوبې په پیل کې دې توپوهنه کوله او که توپ اچونه؟

هغه لوبې خو د خوند لپاره وې، نو ما به پکې توپوهنه او توپ اچونه دواړه کول.

کله دې هم دا فکر کړی و چې دومره لوی لوبغاړی به شې؟

هو، له هغې ورځې چې ما کرکټ ته مخه کړه، په همدې هوډ راغلی وم چې پرمختګ به وکړم.

په راتلونکې کې کومو هدفونو ته د رسېدلو پلان لرې؟

غواړم د خپلې لوبې پر مټ افغانستان ته خدمت وکړم او هېوادوال خوښ وساتم.

له نړیوالې لوبې وروسته څه کوې؟

د خپلې لوبې ویډیو ګورم او په خپلو تېروتنو غور کوم.

چې کله د نړۍ په کچه یو پېژندل شوی کس شوې، په ژوند کې دې څومره تغیرات راغلل؟

الحمد الله ډېر مثبت تغیرات راغلي دي او د پخوا په پرتله ناسته، پاسته کې ډېر دقیق اوسم، ځکه چې د افغانستان استازیتوب کوم.

اوس وختونو کې چې ته ستوری شوې، د کورنۍ پیغام دې څه دی؟

زما د کورنۍ همېشنۍ مشوره همدا ده چې هېوادوالو او مینه والو سره ښه اخلاق وکړم او په یوه خبره یې خوشحاله کړم.

چې کله رسمي تمریناتو او یا لوبو کې نه یې، نو په عادي حالت کې څومره تمرین کوې؟

زه خپل مهالوېش جوړوم او د هغې په اساس د ورځې شاوخوا درې ساعته تمرین کوم.

په لومړۍ ټېسټ لوبه کې دې له لوبې څومره راضي یې؟

له خپلې لوبې خوښ یم.

په ژوند کې په کومه کړنه ډېر خوشحالېږې؟

یو چا ته چې زما له لوري ښه ورسېږي.

کوم ارمان په زړه کې لرې؟

د تلپاتې سولې راتلو ارمان لرم.

له څه کرکه لرې؟

له کینې.

هېوادوالو ته دې پیغام دې څه دی؟

هر افغان دې د سولې په اړه ګام پورته کړي او زړه کړې دې وکړي.

IBRAHIM ZADRAN

ODI Debut - Afghanistan vs West Indies 3rd ODI, 11 November 2019
T20I Debut - Afghanistan vs West Indies 1st T20I, 14 November 2019
Ekana Cricket Stadium, Lucknow, India

HAMZA HOTAK

Test Debut
Afghanistan vs West Indies Only Test, 27 Nov - 1 Dec 2019
Ekana Cricket Stadium, Lucknow, India

NASIR JAMAL

Test Debut
Afghanistan vs West Indies Only Test, 27 Nov - 1 Dec 2019
Ekana Cricket Stadium, Lucknow, India



هغه ۵ توپوهونکي چې په یو ورځنیو سیالیو کې ډېر ځل په صفر سوځېدلي

په صفر سوځېدل د یوه توپوهونکو لپاره ډېره ښه خبره نه وي، ځکه نه یوازې دا چې د هغه په ځان باور خرابوي، بلکې د غوراوي کمېټه هم د هغه په اړه بیا برخې برخې کېږي او په لوبډله کې یې شاملول یو څه گرانېږي هم.

دا هم ډېره گرانه او مهمه خبره وي، چې یو توپوهونکی دې په صفر له سوځېدو وروسته په راتلونکې لوبه کې یو ځل بیا خپله وړتیا ښکاره کړي او ثابته کړي چې هغه هر ځل کم بېک کولای شي، خو بیا هم هیڅ توپوهونکی نه غواړي چې په صفر وسوځېږي او د سترو توپوهونکو په صفر سوځېدل بیا د توپ اچونکې لوبډلې لپاره ډېره د خوشحالۍ خبره وي.

په دې لیکنه کې د هغه توپوهونکو په اړه درسره معلومات شریکوو، چې په یو ورځنیو سیالیو کې تر نورو ډېر ځل په صفر سوځېدلي دي.

سانت جی سوریا (۳٤)

د سریلانکا لوبغاړی سانت جی سوریا یو له بهترینو توپوهونکو څخه دی، هغه تل په زړه پورې توپوهنه ترسره کړې ده او هر کله چې به توپوهنې ته راوتلو، نو د توپ اچوونکو لپاره به سخته وه چې هغه په اسانۍ وسوځوي او همدا راز نومړي ډېرې توپ اچوونکي ښه ټکولي دي.
جی سوریا د خپل هېواد لپاره ۴۴۵ لوبې ترسره کړې او د ۳۲.۳٦ په اوسط سره یې ۱۳۴۳۰ منډې کړې دي، چې ۲۸ سلیزې او ٦۸ پنځوسیزې هم په خپل نوم لري. همدا راز نومړي د توپ اچونې په برخه کې هم ښه لوبه ننداري ته وړاندې کړې ده او ۳۲۳ توپوهونکي یې سوځولي دي.
خو سانت جی سوریا بیا تر نورو ټولو توپوهونکو په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ډېر ځله په صفر هم سوځېدلی دی. ښایي هغه له دې امله په صفر ډېر سوځېدلی وي، چې هغه به توپوهنې ته په همدې فکر راوتلو، چې ستر شاټونه به وهي او ډېرې منډې به جوړوي.

شــــاهد اپــریدی (۳۰)

شاهد اپریدی د پاکستان یو له چټکو توپوهونکو ځخه و. هغه به چې کله هم د توپوهنې لپاره میدان ته راکوزېده، نو خلک به یې د اوږدو شپږیزو په تمه و، هغه نه یوازې دا چې ښه توپوهنه ترسره کوله، بلکې د توپ اچونې په برخه کې یې هم ښه وړتیا درلوده.

د چټکې توپوهنې له امله شاهد اپریدي په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د ډېرو شپږیزو ریکارډ هم لري، چې دغه ریکارډ تراوسه پورې چا نه دی مات کړی. هغه په یو ورځنیو سیالیو کې ۳۵۱ شپږیزې وهلې دي، چې اوس کریس ګېل ۳۳۱ شپږیزې وهلې دي او که چېرته خپلې لوبې ته دوام ورکړي نو ښايي دغه ریکارډ مات کړي.

شاهد اپریدي د پاکستان لپاره ۳۹۸ لوبې ترسره کړې دي او د ۲۳.۵۸ په اوسط یې ۸۰۶۴ منډې ترلاسه کړې دي، همدا راز ٦ سلیزې او ۳۹ پنځوسیزې یې هم وهلې دي.

وسیم اکرم (۲۸)

د (سلطان اف سوینګ) په نوم مشهور پاکستانی چټک توپ اچونکی وسیم اکرم هم یو له ښو لوبغاړو ځخه تېر شوی دی. هغه د توپوهونکو لپاره یو له خطرناکو توپ اچوونکو ځخه و چې هر چا ته یې لوبول اسانه نه و.

نوموړی د پاکستان لپاره په ۳۵٦ لوبو کې لوبېدلی دی او د ۱٦.۵۲ په اوسط سره یې ۳۷۱۷ منډې ترلاسه کړي دي، همدا راز ٦ پنځوسیزې یې هم وهلې دي.

هغه د توپوهنې وړتیا هم درلوده او همدا لامل دی چې په دغه لیسټ کې یې نوم راغلی دی. هغه په ۲۸۰ پاټیو کې ۲۸ ځله په صفر سوځېدلی دی او دریم توپوهونکی دی چې دغه ریکارډ په خپل نوم لري.

مهیلا جی وردنی (۲۸)

د سریلانکا لوبغاړی مهیلا جی وردنی د توپوهنې په برخه کې یو له باوري او وړتیا لرونکو توپوهونکو څخه و چې تل یې د سریلانکا لوبډلې لپاره سترې لاسته راوړنې درلودې. هغه د کمار سنګاکارا سره په ګډه د سریلانکا لوبډلې د توپوهنې برخه ډېره قوي کړې وه.

نومورې ۴۴۸ لوبو کې ګډون کړی او د ۳۳.۳۸ په اوسط سره یې ۱۲۶۵۰ منډې ترلاسه کړې دي، چې ۱۹ سلیزې او ۷۷ پنځوسیزې یې هم وهلې دي. نوموړی د سریلانکا دریم توپوهونکی دی چې د خپل هېواد لپاره یې په یو ورځنیو سیالیو کې ډېرې منډې ترلاسه کړې دي.

مهیلا جی وردنې چې د توپوهنې په برخه کې تل ښه ځلېدلی دی، خو بیا هم په ۴۱۸ یو ورځنیو نړیوالو لوبو کې ۲۸ ځل په صفر سوځېدلی دی.

لاسیت ملینګا (۲٦)

د سریلانکا بل مخکښ او چټک توپ اچونکی لاسیت ملینګا دی، چې ډېر ځل په صفر سوځېدلی دی. هغه نه یوازې دا چې ښه توپ اچونه ترسره کړې، بلکې یوازینی توپ اچونکی دی چې په نړیوال جامونو کې یې هم دوه ځلې هېټریک ترسره کړی دی او همدا راز په یو ورځنیو سیالیو کې یې هم درې ځلې هېټریک په خپل نوم کړی.

هغه د سریلانکا لپاره ۲۲٦ لوبې ترسره کړې دي، چې د ٦.۸۳ په اوسط سره یې ۵٦۷ منډې کړې او ۱ پنځوسیزه یې هم وهلې ده.

په توپ اچونه کې نوموړي بیا ۳۳۸ لوبغاړي سوځولي او ښه توپ اچونه یې د ۳۸ منډو په بدل کې ٦ لوبغاړي سوځولي دي.

که څه هم نوموړی د لوبې په وروستیو کې توپوهنې ته راوتلی دی، خو په دغه لیسټ کې یې هم ځان شامل کړی دی چې ډېر ځله په صفر سوځېدلی دی. هغه ۲٦ ځله په صفر سوځېدلی او په دغه لیسټ کې پنځم توپوهونکی دی. هغه اوس هم د سریلانکا لوبډلې لپاره لوبېږي.



هغه لوبه چې په ۱ توپ ۱۲ منډې پکار وې او لوبډلې پوره کړې

هسې خو که په یوه توپ ۱۲ منډې پکار وي او هر څوک لوبه ګوري، نو هغوی به وایي چې نه شي پوره کېدای، خو کرکټ داسې لوبه ده چې هر څه په کې کېدای شي.

دغه لوبه چې د جنورۍ په ۲۸مه نېټه ۲۰۰۷ کې د نیوزیلنډ په ایالتي شل اوریرو سیالیو کې د ناردرن ولسوالۍ او اکلېنډ ترمنځ ترسره کېده، په لومړي ځل په ۱ توپ ۱۲ منډې پوره شوې. په دغه لوبه کې د نیوزیلنډ لوبډلې نړیوال لوبغاړي، لکه مارټن ګوپټیل، روب نیکول، سکاټ سټیریس، پیټر مکګلاشن، انډي اېډمز، ډینیل فلین، جېمز مارشال، ډېریل ټوفي او کرس مارټن هم شامل وو.

دغه لوبه د همېلټون په سیډون پارک کې ترسره کېده، چې د ناردرن ولسوالۍ لوبډلې کورنی لوبغالی و. ناردرن لوبډلې پچه وګټله او لومړی یې توپوهنه ترسره کړه چې د اکلېنډ لوبډلې ته یې د بریا لپاره ۱۶۱ منډې هدف وټاکه. اکلېنډ د هدف پر وړاندې بنه توپوهنه پیل کړه، چې مارټین ګوپټیل د خپلې لوبډلې منډې په ۱۴.۲ اوروونو کې ۹۷ ته ورسولې خو ۵ لوبغاړي یې هم له لاسه ورکړل، همدا راز دوی ته د بریا لپاره په ۳۴ توپونو ٦۴ منډې پکار وې. روب نیکول او کیلی ټوډ بیا ښه ملګرتیا وکړه او منډې یې

په ۱۹.۱ اوروونو کې ۱۴۷ ته ورسولې او هماغه ۵ ویکټې یې له لاسه ورکړې وې. ټوډ په بل توپ باندې خپله ویکټه له لاسه ورکړه او اکلېنډ ته د بریا لپاره په ۴ توپونو ۱۴ منډې پکار وې.

له هغه وروسته انډري اېډمز، د نیوزیلنډ یو نړیوال توپ اچونکی الراونډر راغی، خو خبره دې ته راورسېده چې اکلېنډ ته په ۱ توپ ۱۲ منډې پکار وې، دغه وخت کې ګریمي الډریج توپ اچونه کوله، چې د خپل دریم او وروستی توپ یې ترسره کاوه، هغه ۷ منډې ورکړې او دوه لوبغاړي یې هم سوځولي و. نوموړي د لوبې وروستی توپ وکړ، چې هغه (نو بال) و او اېډمز پرې څلوریزه ووهله.

دوی په نو بال ۵ منډې ترلاسه کړې، خو د نیوزیلنډ په ډومېسټک لوبو کې په (نو بال) دوه منډې ورکول کېږي، نو دا ٦ منډې شوې. اکلېنډ ته اوس په یو توپ ٦ منډې پکار وې او په دغه وروستي توپ اېډمز شپږیزه ووهله، چې داسې یې په وروستي ۱ توپ ۱۲ منډې ترلاسه او خپله لوبډله یې بریا ته ورسوله.

دغه لوبه چې ۱۳ کاله یې ترسره شو، خو په دې تېرو ۱۳ کلونو کې په هېڅ لوبه کې بیا دغه ډول بریا کومې لوبډلې نه ده ترلاسه کړې.

Cricket venues across the globe have their unique features.

Cricket venues across the globe have their unique features.

The Home of Cricket, Lord's, has a pronounced slope. The Queenstown ground in New Zealand is right next to an airport, which provides a great backdrop of planes taking off and landing during play.

Some have a tree inside the playing area. That's right, not in the venue but in the outfield. Here we take a look at these remarkable cricketing venues.

The South African city is famous for being the birthplace of Mahatma Gandhi's freedom struggle and, to a lesser extent, having a cricket ground with a tree at its boundary.

So what happens if the ball hits the tree? According to the venue rules, it's a four regardless of where ball hits the tree.

The venue has hosted two international matches in its lifetime, both at the 2003 World Cup. One of the unique features about the venue is that any player who scores a century or takes a five-wicket haul gets to plant a tree at the ground.

St Lawrence Ground is the home ground of Kent Cricket Club. The ground had a 27m-high lime tree within the boundary ropes. However, in 2005 it fell during high winds after being weakened by fungus.

A new lime tree was planted as a replacement for the 200-year old fallen tree. It was placed inside the playing

area but outside the boundary ropes.

The VRA Cricket Ground in Amstelveen has hosted some high-profile ODI matches, including one match of the 1999 World Cup and the Videocon Cup in 2004 between India, Pakistan and Australia.

The ground has a massive tree right inside the playing arena. However, the Netherlands has not hosted many high-profile international matches over the last decade.

THREE CRICKET VENUES THAT HAVE A TREE INSIDE THE GROUND

عزیزی بانک
Azizi Bank

رفاه قرضه
RIFA LOAN

بهترین گزینه برای رشد و پیشرفت کاروبار

زنان

1515
www.azizibank.af